السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# د الله جل جلاله د نبي صلى الله عليه وسلم اخلاق قرآن و

سعد بن هشام بن عامر - چې کله د عايشې رضي الله عنها کور ته ورغی نو وېې ویيل: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، أَنْبِئِينِي عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: أَلَسْتَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ؟ قُلْتُ: بَلَى، قَالَتْ: فَإِنَّ خُلُقَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ الْقُرْآنَ. اې د مؤمنانو مورې، ماته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو په اړه خبر راکړه، هغې وفرمايل: آيا ته قرآن نه لولې؟ ما وويل: ولې نه، وېې فرمايل: د الله جل جلاله د نبي صلى الله عليه وسلم اخلاق قرآن و.

[صحيح]

د مؤمنانو له مور عايشې رضي الله عنها څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو په اړه پوښتنه وشوه، نو هغې جامع ځواب ورکړ، او پوښتونکي ته يې په قرآن کريم حواله ورکړه؛ هغه کتاب چې د کمال ټول صفتونه پکې دي، نو وېې فرمايل چې: د هغه اخلاق قرآن و، په هغه څه چې قرآن امر کړی هغه يې عملي کړي، او له هغه څه چې قرآن منع فرمايلې، ډډه يې ترې کړې ده، نو په قرآن عمل کول، د هغه له حدودو سره ودرېدل، په ادابو يې ځان سنګارول، له کيسو او مثالونو څخه يې عبرت اخيستل د هغه اخلاق و.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8265

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee